شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۳/۲۴

# هــجـرت

مورږ بَله کړي د خپل ژوند ډيوه وه

خو شپه اوږده شوه پسي

بل خوا د هجر سيلاونه راغلل

په کي لاهو شوو

زموږ د هجرت د کړاونو بيړی

اوږده مزلونه واټونه وهي

دا د قدرت د طوفانونو څپي

يا د وحشت د دوزخو بڅري

زما د بچو د اميدونو ځاله

هم سوزوله وړانوله را نه

زما د ژوند د اميدونو مينه

آ د عظمت د جګو غرونو خيبر

زما د جنت د عزتونو حوره

د دي اوږدي لاري مزلونو ورک کړل

د رڼا څرک غوندي ښکاره شول

خو ډير لږ پاتي شول

زما د تقدير د قدرتونو سالار

په بی وسي او پرديسی کي راته

د بيا ځلي هجرت فرمان صادر کړ

د ۱۹۹۷ کال اکتوبر، جرمنی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ